## نړیواله تودوخه

په دې وروستیو 100کلونو کې د ځمکې اوسط تودوخې لوړه شوې ده . دا پدې مانا ده چې د ځمکې اوسط ډول تودوخې لوړه او لوړه شوې ده.

په تیرو 100 کلونو کې ، د ځمکې اوسط تودوخې درجه نږدې 0.8 درجې لوړه شوې. دې ته نړیواله تودوخه ویل کیږي. په اتموسفیر کې د نړیوالې تودوخې لامل د شنو خونو ګازونو زیاتوالې دې.




**د شنو خونو ګازونه**

د ځمکې شاوخوا ته اتمسفر وایي. د اتمسفرڅخه پورته فضا ویل کیږي.د فضا یخني له منفی 270 درجو څخه ډیر دی.

اتموسفیرپه شمول د اوبو بخار او کاربن ډای اکسایډ د مختلفو ګازونو څخه جوړه شوې ده .د اوبو بخار او کاربن ډای اکسایډ د شنو خونو ګازونه بلل کیږي. دوی ته څکه د شنو خونو ګازونه ویل کیږي  چې دوی څمکه د لمر له تودوخې څخه ساتې او لمریز انرژي منعکس کوي.کله چې دا پروسه په طبیعي ډول ترسره کیږي، توازن شتون لري، او د ځمکې تودوخه ثابت پاتې کیږي. موږ کولی شو ووایو چې د شنو خونو ګازونه د ځمکې په شاوخوا کې د برستن په توګه عمل کوي.

پورته انځور ښيي چې څنګه د لمر ځينې تودوخې وړانګې د ځمکې د سطحې لخوا جذب کيږي، ځينې وړانګې فضا ته منعکس کيږي، مګرکله چې ځينې وړانګې د ځمکې اتموسفير ته ننوځي دا وړانګې د ځمکې سطح ته بيرته منعکس کيږي.کله چې دا په طبيعي توګه پېښيږي، د ځمکې په سطحه منځنۍ تودوخه شاوخوا 15 درجې ده.

**د شنو خونو د انسان لخوا رامينځته شوي لاملونه**

د نړيوالې تودوخې يو مهم لامل د انسانانو لخوا رامينځته شوی د شنو خونو ګازونه زياتوالی دی.د انسان لخوا د شنو خونو اغيز  اتموسفير ته کاربن ډای اکسايډ د اخراج له امله رامينځته کيږي.دا د انرژي ترلاسه کولو لپاره د فوسيل سونګ لکه نفت ، طبيعي ګاز او د ډبرو  سکرو سوځولو سره ترسره کيږي.لاندې انځور د کاربن ډای اکسايډ د اخراج ځينې سرچينې ښيي.




نفت ، طبيعي ګاز او د ډبرو سکاره ډېر کاربن ډای اکسايډ  لري.هغه وخت چې کاربن وسوځول شي او د اکسيجن سره تعامل وکړي کاربن ډای اکسايډ رامينځته کيږي.موږ کاربن ډای اکسايډ ته د شنو خونو ګاز هم وايو، ځکه چې د کاربن ډای اکسايډ زياتوالی د ځمکې په اقليم باندې اغيزه کوي.

کله چې موږ فوسيل سونګ توکي لکه نفت ، د ډبرو سکرو او ګاز وسوځوو، کاربن چې څو ميليونه کاله وړاندې له اتموسفير څخه لرې شوی و، خوشې کيږي، او اتموسفير کې کاربن ډای اکسايډزياتيږي.موږ ويلای شو چې د ځمکې په شاوخوا بړستن پنډ کيږي.بيا منځنۍ تودوخه لوړيږي، او موږ په ځمکه کې ګرم اقليم ترلاسه کوو - نړيواله تودوخه.

**غیر نوی کیدونکی یا د سون مواد انرژی**

نفت، د ډبرو سکاره او ګاز د غیر نوی کیدونکی یا د سون مواد انرژی سرچینې دي. کله چې یو ځه د نوي کولو وړ نه وي، دا ځو ځله کارول کیدی نشي. دا پدې مانا ده چې خلاصیږي.

نفت، ګاز او د ډبرو سکاره د نباتاتو او مړو حیواناتو له پاتېشونو ځخه جوړ شوي، چې ملیونونه کاله د مخه ژوند کاوه. نباتات او مړه حیوانات په سمندر کې تخریب ، او بالاخره د خاوري او ختو پنډ طبقه لاندي شول.د خاوري او ختوپنډ طبقه د لوړ فشار لامل شو.لوړ فشار، د ځمکې تودوخې سره یوځای لامل شوی چې مړشوې حیوانات او نباتات په نفت، ډبرو سکاره او ګاز بدل شی. د مړو حیواناتو او نباتاتو پاتې شونو په نفت ، ډبرو سکرو او ګازو بدلول میلیونونه کاله وخت نیسي.

**د نړیوالې تودوخې ګوابښ**

د انسان لخوا رامینځته شوي کاربن ډای اکسایډ اخراج د پرلپسې بارانونو اوربښت باندې اغیزه کوي، سمندر ګرموي او د ګلیشیرونو او د سمندري یخونو یه منحل کېدو کې مرسته کوي.دا د نړی ترټولو بې وزله خلک دي چې د اقلیم د بدلون لخوا خورا سخت ځپل کیږي.خو منفي پایلې یې پر ناروې او نورو بډایه هېوادونو هم اغېز کوي.

**پرلپسې باران**

د نړی تودوخه د پرلپسې باران اوربښت باندې اغیزه کوي. چیرې چې اوربښت ډېر لږ وي، هلته به وچکالی وی, او چیرې چې اوربښت ډېر وي هلته به ډېر زیات اوربښت وي.نو په ځینو ځایونو کې به وچکالې زیاته وي او په نورو ځایونو کې به ډیر سیلابونه راشي. سیلابونه او وچکالۍ دواړه د ځارویو، نباتاتو او انسانانو لپاره ستونزې رامنځته کوي.





## ډېره سخته هوا

سخته هوا خورا قوي باد اوډېر باران یا واوره ده. په لاندې انځور کې تاسو  د طوفان وروسته زیانونه وینئ چې ودانۍ، سړکونه او طبیعت ویجاړ شوي. د سختې هوا وروسته، د پاکو اوبو موندل خورا ستونزمن یا ناممکن کیدی شي.





**يخونه يا کنګلونه  اوبه کيږي**

کله چې تودوخه ډيره لوړه شي ، قطبي *يخونه يا کنګلونه*  اوبه کيږي، او په ټوله نړۍ کې ګليشيرونه کمېږي او کمېږي.دا په ټوله نړۍ کې د انسانانو، نباتاتو او حيواناتو لپاره منفي پايلې لري.په هغو سيمو کې چې ډير يخ لري د حيواناتو، نباتاتو او خلکو د ژوند اساس، به بدل شي.که چيرې د يخونو اوبه  کېدل سرعت ومومي، نو حيوانات او نباتات چې د يخ په سر او د يخ لاندې  ژوند کوي د ګړندي بدلونونو سره موافقت کولو توان نلري.





*1shutterstosck.com*

د مثال په توګه لږ یخ سګلاهوباندې اغیزه کوي، یو حیوان دی چې دیخ په سرژوند کوي.دا د یخ په سر ژوند کوي، په یخ کې بچیان راوړي، او په یخ کې استراحت کوي.کله چې یخ لږ شي، نو دا د سګلاهو لپاره خورا ستونزمن کیږي، او د سګلاهونفوس به کم شي.بله بیلګه یې قطبي ایږه ده.قطبي ایږه هم په یخ کې ژوند کوي، او د هغه د خوړو یوه مهمه سرچینه سګلاهودي.کله چې یخ کم شي، د قطبي ایږه د ژوند کولو لپاره به لږ ځای وي، لږ خواړه به وي، او نفوس یې هم به کم شي.

## د اقلیم سازښت لپاره د انرژي سرچینې

موږ انسانان انرژي ته اړتیا لرو. په عین حال کې موږ نشو کولی د فوسیل سونګ توکي سوځوو پرته له دې چې د ځمکې منځنی تودوخه لوړه شي. دا پدې مانا ده چې موږ باید د شنو خونو اغیز کمولو لپاره، د شنو انرژي سرچینو څخه ، چې د نوي کیدونکي انرژي سرچیني یا د اقلیم سازښت لپاره د انرژي سرچیني هم ویل کیږي کار واخلو.



*Kilde: Shutterstock*

د اوبو بریښنا انرژي، د باد بریښنا او لمریز انرژي د فوسیل تیلو په پرتله د اقلیم سازښت لپاره د انرژي سرچیني مثالونه دي.

**له متن څخه غوره شوي فني اصطلاحات**

| | | |
|---|---|---|
| اقليم | نړيوال | نړيواله تودوخه |
| د شنو خونو اغيز | د شنو خونو ګاز | داقليم ګاز |
| فضا | انعکاس | جذبوي |
| نوي کيدونکي | غير نوي کيدونکي | انرژي |
| د فوسيل سونګ توکي | خورا سخت | سخت موسم |
| اورښت | د **باران** د **پرلپسې اورښت** | ګواښ |

Alle illustrasjoner er fra Shutterstock.com